**د روهینګیایي مسلمانانو ټولوژنه په دولتي اډانه کې د لوېدیځوالو د ملتپالنې سیاسي مفکورې د نیمګړتیا له امله ده**

(ژباړه)




**خبر:**

د ۲۰۱۷م کال د سپټمبر پر ۱۳مه د بي بي سي د راپور له مخې د میانمار مشره انګ سان سوچي به په راتلونکې اونۍ کې د ملګرو ملتونو په یو کلیدي بحث کې له ګډون څخه ډډه وکړي؛ ځکه چې پر هغې نیوکې په زیاتېدو دي، چې د روهینګیا د لږکیو مسلمانانو د کړکېچ په اړه یې چوپتیا غوره کړې. د اګېسټ له ۲۵ مې راهیسې نږدې ۳۷۰۰۰۰ روهینګیایان د وحشي بریدونو له امله بنګله‌دېش ته تښتېدلي دي. د میانمار حکومت د ملګرو ملتونو هغه ادعاوې رد کړې، چې وایې: د روهینګیایي مسلمانانو پر وړاندې منظمه توکموژنه روانه ده؛ خو د بي بي سي خبریال د توکموژنې د یوې کره بېلګې شاهد و. د بي بي سي راپور پر مېرمن انګ سان سوچې، چې د نوبل جایزې لرونکې ده، نیوکه کړې، چې د ټاکنو له بریا وروسته یې هغه روهینګیایان نه دي ژغورلي، چې له کلونو راهیسې له توکموژنې، دوامداره تبعیض او تېري سره مخ دي. د روهینګیا لږکي مسلمانان د بودایي اکثریت له لوري له ژورې توکمیزې کرکې سره مخ دي. که څه هم بي بي سي له هغې سره په دې اړه، چې نوموړې د ستونزو له امله د روهینګیایي لږکیو مسلمانانو په پلوي ګام نه دی پورته کړی، خواخوږي ښکنده کړه.

**تبصره:**

د یادونې وړ ده، چې ملګري ملتونه دنده لري، ترڅو په روانه غمیزه کې د ستونزې لپاره حل لاره ومومي، خو په واقعیت کې د ملګرو ملتونو اداره د دې ستونزې په حل کې پاتې راغلې؛ چې پر اساس یې دغه بنسټ منځته راغلی. د دې ادارې د اهمیت په اړه د رسنیو بحثونه نمایشي دي.

لوېدیځې رسنۍ له مېرمن سوچي څخه غوښتنه کوي، چې د نوبل جایزه د هغې ناکامۍ له امله بېرته وسپاري چې د توکموژنې او په روهینګیا کې د کړکېچ په کمولو کې پاتې راغلې. له بل پلوه، مېرمن سوچې تور لګوي چې د ستونزې په تړاو په لویه کچه ناسم معلومات خپرېږي. خو حقیقت دا دی چې شاوخوا ۴۰۰۰۰۰ کډوال ګاونډې هیواد بنګله‌دېش ته تښتېدلي، تر څو له هغو سلګونو زرو کډوالو سره یوځای شي، چې لا پخوا د عاموژنې له وحشي بریدونو څخه تښتېدلي وو. اوس هم ډېر روهینګیایان پر هغه پوله بند پاتې دي، چې د میانمار پوځ د دوی د بیا راستنېدو د مخنیوی په موخه ماینونه پکې ایښې وو. په داسې حال کې چې یو شمېر نورو د تېښتې په موخه د وړو کښتیو پر مټ له سمندرګي هغې غاړې بنګله‌دېش ته د تېرېدو هڅه کوله، چې په اوبو کې ډوب شول.

د ملګرو ملتونو سر منشي انتونیو ګوتریس وویل: دا یو ستر بشري ناورین دی. کله چې له ده څخه د توکموژنې په اړه پوښتنه وشوه، ده په ځواب کې وویل: د روهینګیا یو پر درېیمه نفوس له هیواد څخه تېښتې ته اړ شول. ایا ته کولای شې داسې لفظ پیدا کړې، چې دغه حالت په ښه ډول بیان کړې؟ ملګري ملتونه په راتلونکې اونۍ کې د مېرمن سوچي په ګډون یا نه ګډون کې ناسته لري. نو د غندنې او د بنګله‌دېش په کمپونو کې د ګڼو کډوالو د بشري ناورین د څرګندېدو تمه ترې کېږي. د غړو هیوادونو له لوري شونې ده د مرستو ژمنې هم وشي. له بل لوري، د امریکا متحده ایالات، اروپايي هیوادونه او چین چوپه خوله دي؛ ځکه چې د میانمار اقتصاد په تدریجي ډول د آزاد بازار پر لور روان دی او ستر پانګوال دولتونه نه غواړي، چې د پانګونې فرصت له لاسه ورکړي او په دې پلمه تېنګار کوي، چې د دوی په خبره په میانمار کې نوې راتوکېدونکې دیموکراسي، چې د ودې په حال کې ده؛ کاواکه نه شي. په یقیني توګه به نیوکې کېږي، خو د میانمار پر وړاندې به له پوره زغم څخه کار اخیستل کیږي، تر څو د روهینګیا د مرستې لپاره اوازونه چوپ کړي او د اسلامي نړۍ مشران به پرته له عملي اقدام څخه، چې اسلام ترې غوښتنه لري، د تېر په څېر تش اخطارونه ورکوي.

لوېدیځ نړیوال نظم او هغه بنسټونه لکه د ملګرو ملتونو سازمان د دې لپاره جوړ شوي دي، چې د ملي دولت له خطرناک مفهومه ملاتړ وکړي؛ چې دا د اسلامي امت لپاره یوه ستره بلا ده. په ټوله نړۍ کې د ملتپالنې پر بنسټ د دولت مفهوم د خلکو د مرګ او ویجاړۍ سبب ګرځېدلی دی. د المان اشتراکي ګوند ملتپالنه د یوه هڅوونکي ځواک په توګه وکاروله، چې په پایله کې یې په اروپا کې دویمه نړیواله جګړه او ټولوژنه رامنځته شوه. د شوروي اتحاد تر پاشل کېدو وروسته نومړې مفکورې یو ځل بیا په اروپا کې سر پورته کړ، چې په پایله کې په پخوانۍ یوګوسلاویا کې د کورنۍ جګړې او بوسنیا کې د مسلمانانو د عاموژنې لامل وګرځېده. دغه مفکوره د روسیې له لوري د اوکراین د بې ثباته کولو او په رونډا کې د ټوټسي توکم د عاموژنې په موخه وکارېده.

د میانمار د وسله‌والو ځواکو لوی درستیز جنرال مین انګ هلینک وویل: چې د راخین ایالات بودایان د دې سیمې ځايي اوسېدونکي دي، چې د خپلو نیکونو له وخت راهیسې همدلته اوسیږي. نو ځکه دوی د میانمار ځايي

اوسېدونکي پېژندل کيږي او هغه د حقيقت په پټولو سره په ډاګه تاييد کړه، چې د ده هېواد به د روهينګيا اصطلاح ونه مني او نه به يې په رسميت وپېژني. د ميانمار بودايي واکمن اکثريت، له نظره روهينګيايان له بنګله‌دېش څخه راغلي ناقانونه کډوال دي. پورته نظريات د امريکا د متحده ايالاتونو د اوسنۍ ادارې له نظرياتو سره هېڅ توپير نه لري، چې وايي له مکسيکو سره پر پوله دېوال جوړوي، تر څو مکسيکويي کډوال له دغه هېواد څخه وشړي او د امريکا له متحده ايالاتونو څخه بهر ناقانونه کډوال وشاړي، چې په وينا يې امريکا بيا ستره کړي. د دولت د وګړتوب لپاره ملتپالنه يوه وژونکې او وحشي ذهني مفکوره ده چې د انسان د ډېرې بدبختۍ او ګمراهۍ لامل ګرځي. برتانيې له اروپايي اتحاديې څخه د بېلېدو نوښت ځکه پيل کړی، چې برتانيايي ملت د اروپايي اتحاديې په غړيتوب کې مدغم نه شي او د اروپايي اتحاديې د ملتونو يوه برخه ونه ګرځي.

يوازې په اسلامي ايډيولوژۍ کې دا ظرفيت شته، چې بېلا بېل توکمونه سره يوځای، همږغي او د يووالي پر لور يې بوځي؛ خو نن مسلمانان د لوېديځ له کرغېړنې مفکورې ملتپالنې څخه ځوريږي. موږ مسؤول يو چې له خپلو ځانونو او نورو نړۍ څخه دغه ستره بدمرغي لرې کړو او په دې تمه و نه اوسو چې ملګري ملتونه به دغه چاره سرته ورسوي؛ ځکه چې دا بنسټ د همدې مفکورې (ملتپالنې) د ودې او پراختيا لپاره جوړ شوی دی؛ چې د انسان د بدمرغۍ لامل کېږي. د ملګرو ملتونو د راتلونکې اونۍ ناسته به د غميزې له غندلو پرته هېڅ درد دوا نه کړي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ډاکټر عبدالله روبين**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۲٦مه**

**۲۰۱۷م، د سپټمبر ۱۷مه**